# الانفطار

**مکی سورة دی ۱۹ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ١

**کله چې آسمان وچوی.**

وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ٢

**او ستوری خواره واره( او راوغورځی).**

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ٣

**او کله چې بحرونه په سواحلو ورواوړی( او د خوږو اوتروو اوبو تول بحرونه سره یو ځای شی).**

وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ٤

**او کله چې قبرونه لاندې باندې کړی شی( او خلک ترې راووځی).**

عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ٥

**هر څوک به خپل استول شوی او ورنه پاتې شوی ښه او بد اعمال ووینی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦

**ای( کافر انسانه!) څه شی د خپل مهربان  رب په باب تیرویستې؟( آیا ته د خپل جهل او حماقت له امله د خپل رب په حلم او کرم تیروتی یې).**

ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧

**هغه ذات چې ته یې پیدا کړې او مناسب او متعادل اندامونه او د بدن جوړښت یې درکړ.**

فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨

**او له خپلې خوښې سره سم یې ستا څیره او شکل جوړ کړ.**

كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ٩

**بلکه( تاسو د خپل کاذب غرور په نشه کې )د حساب کتاب له ورځې نه انکار کوئ( او د عناد او جهالت لاره مو غوره کړې ده).**

وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ١٠

بې له شکه چې په تاسو څارونکی (ملائک) ټاکل شوی دی.

كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ١١

چې ډير محترم ليکوالان دی.

يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ١٢

ستاسو( د خير او شر) په ټولو کړنو ډير ښه خبر دی( او هر عمل مو په عملنامه کې درته ثبتوی).

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ١٣

نيکان او صالحين به په غوره نعمتونو کې وی.

وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ١٤

او مجرمان( کافران) به په جهنم کې وی.

يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ١٥

چې د مکافات او مجازات په ورځ به پکې وروغورځول شی.

وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ١٦

او دوی له دوزخ نه پټيدی نشی.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٧

او( ای مخاطبه) ته څه پوهيږې چې د مکافات او مجازات ورځ څه ډول ورځ ده؟

ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٨

هو - ته څه پوهيږې چې د جزا او سزا ورځ څنګه ورځ ده؟

يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ١٩

داسې ورځ چې هيڅوک به له بل نه د عذاب کوم بځری هم کمولی ونشی، او حکم او فرمان به په دغه ورځ يوازې او يوازې د الله تعالی مقام ته ځانګړی او منحصر وی.« تمت سورة الانفطار بفضل الله و رحمته»==================